
National Women & Infants Health Programme

PAEDIATRICS

# د سایټو مېګالو د وېروس پیدایښي عفونت (cCMV)

## د والدینو او قانوني سرپرستانو لپاره معلومات



**د څانګې نوم:**

..................................................

**د څانګې د ټیلیفون شمېره:**

..................................................

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ زموږ یوه کارکوونکي سره خبرې وکړئ.

Clinical Design & Innovation
*Person-centred, co-ordinated care*




که چېرته ستاسو د ماشوم تشې متيازې معاينه شوې وي نو تاسو به د معاينې پايله په دوه اونيو کې ترلاسه کړئ. کله چې تاسو د خپل ماشوم د متيازو يوه نمونه ورکولو ته رضا شئ، تاسو دا اجازه هم ورکوئ چې نمونه بايد معاينه شي. تاسو همدارنګه هوکړئ کوئ چې د معاينې پايلې بايد په کرَملَن او ټيمپل کوڅه واقع د سي ايچ آی (CHI) پـه رېمبو کلينيک (Rainbow Clinic) کې د ماشـومانو د عفوني ناروغيو ملي مرکز (The National Centre for Paediatric Infectious Diseases) سـره شريک کړای شي. هغوی به له تاسـو سـره د پايلو شريکولو لپاره اړيکه ونيسي.

## مهم:

### که تاسو پايلې په دوه اونيو کې ترلاسه نکړئ

تاسـو به اړتيا ولرئ چې له لاندې ځايونو يو ځای سره اړيکه ونيسئ:

- د روغتون له هغې څانګې يا واحد سره اړيکه چېرته چې تاسو ماشوم زېږولی. د اړيکې جزيات د دې معلوماتي پاڼې پر مخ موجود دي.

يا

- په کرَملَن او ټيمپل کوڅه واقع د سي ايچ آی (CHI) په رېمبو کلينيک (Rainbow Clinic) کې د ماشومانو د عفوني ناروغيو ملي مرکز (The National Centre for Paediatric Infectious Diseases) سره په دې شمېرې اړيکه: **01-409 6338**

Plain English
Approved by NALA

## د سایټو مېګالو وېروس عفونت (cCMV) څه شی دی؟ *(تلفظ يې سايټو- ميګا - لو ويروس دی چې لنډ شکل يې CMV دی.)*

CMV یو عام وېروس دی. په سالمو ماشومانو او لويانو کې CMV معمولاً د نښو نښانو لامل نه کېږي. مګر که چېرته نا زېږېدلي ماشومان په CMV اخته شي، کېدای شي چې روغتيايي ستونزې ورته پيدا شي. د 'پيدايشي سي ايم وي (cCMV)' معنا دا ده چې ماشوم له زېږونه د CMV عفونت نيولی دی.

## CMV څه ډول خپرېږي؟

CMV له یو شخص څخه بل شخص ته د بدن له مايعاتو سره د لمس له لارې خپرېږي. که تاسو مېندواره یاست او په CMV اخته شئ، کېدای شي عفونت ستاسو بچي ته سرايت وکړي. دې ته د پيدايشي CMV عفونت وايي.

## نښې نښانې يې کومې دي؟

ډېری هغه ماشومان چې د cCMV عفونت لري، د زېږون پر مهال نښې نښانې نلري. مګر ځينو ماشومانو ته کېدای شي ستونزې پيدا شي. په دې کې کېدای شي د اورېدنې استعداد له لاسه ورکول شامل وي.

د اورېدنې استعداد له لاسه ورکول چې د پيدايشي CMV له امله رامينځته شوي وي خفيف يا شديد کېدای شي. دا کېدای شي له زېږون څخه وروسته شدت ومومي.

که چېرته ستاسو ماشوم خپله اورېدنه له لاسه ورکړې وي، دا کېدای يې پر يوه يا دواړو غوږونو اغېز وکړي.

## درملنه يې څه ده؟

درملنه يې د وېروس ضد درمل دي. که چېرته پرېکړه وشي چې درملنه به ستاسو ماشوم ته ګټه ورسوي نو په مثالي ډول دا درملنه بايد د ماشوم عمر 4 اونيو ته رسېدو څخه وړاندې پيل شي. ستاسو ماشوم ته په لومړۍ موده کې د درملنې ورکول هغه ته فرصت ورکوي چې اوږد مهاله ګټو څخه يې برخمن شي.

د مېندوارۍ پر مهال د CMV پـه اړه د نورو معلوماتو لپاره QR کوډ سکېن کړئ.

## cCMV عفونت څنګه تشخيصېږي؟

1. د نوي ماشوم معاينه کوونکي لخوا ستاسو ماشوم د اورېدنې د ارزونې لپاره د آډيولوژي څانګې ته مراجعه شوی دی. ستاسو ماشوم ته به همدارنګه د cCMV يوه معاينه وړانديز شي. دا د تشو متيازو معاينه ده.
2. ستاسو د ماشوم د تشو متيازو معاينه به ستاسو په اجازه د زېږون په لومړنيو 3 اونيو کې ترسره شي. موږ دا معاينه د cCMV د معلومولو لپاره ترسره کوو. د تشو متيازو نمونه معمولاً د ماشوم لامده روڼې څخه ترلاسه کېږي. دا کار د پنبې وړوکي توپ يا په بل ډول ترسره کېږي. تاسو ته به يې طريقه وښودل شي.
3. په مهربانۍ سره ډاډه کړئ چې د متيازو نمونه اخيستونکې نرسه بايد ستاسو د ټيليفون دقيقه شمېره او پته ولري.

## د متيـازو د معاينې منفي پايله

د متيازو د معاينې منفي پايله په دې معنا ده چې ستاسـو ماشـوم cCMV نلري. که چېرته پايله منفي وي، نو تاسـو ته به يو ليک در واستول شي.

**په ياد ولرئ:** دا لا هم مهمه ده چې تاسـو خپل ماشـوم د آډيولوژۍ د څانګې ټولو تعقيبي ليدنو ته درسره راوړئ.

## د متيـازو د معاينې مثبته پايله

د تشـو متيازو د معاينې منفي پايله پر دې معنا ده چې ستاسـو ماشـوم په پيدايشـي CMV اخته دی. راتلونکي ګامونه به دا وي:

1. په کرَملَن او ټيمپل کوڅه واقع سي ايچ آی (CHI) روغتون کې د ماشومانو د عفوني ناروغيو لپاره د رېمبو (Rainbow) د کلينيک طبي ډله به تاسو سره اړيکه ونيسي ترڅو ستاسو لپاره د يوې معايناتي ليدنې وخت وټاکي.
2. ټيم به ستاسو ماشوم معاينه کړي. هغوی به پرېکړه وکړي چې ايا درملنه به ستاسو ماشوم لپاره ګټوره وي يا نه وي.
3. موږ غوښتنه کوو چې تاسو خپل ماشوم د اورېدنې ټولو تعقيبي ليدنو ته راوړئ او همدارنګه يې د خپل عمومي معالج عادي ليدنو ته هم راوړئ. دا همدارنګه مهمه ده چې خپل ماشوم د عامې روغتيا د نرسې ليدنو ته راوړئ. په دې کې ستاسو د ماشوم واکسينونه کول هم شامل دي.